مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوار سنګروال ۲۰۲۲/۱۱/۰۶

شیطان د انسان په جامه کې !؟

د امریکا متحده ایالاتو ولسمشرجوبایډن د جمعې ورځ دعقرب په ۱۳مې نېټې(۱۴۰۱لېږدې لمریزکال) ،چې د۲۰۲۲زیږدې کال دنوامبرله ۴مې سره برابره وه،وویل،چې ګنې

«افغانستان هغه ټاټوبی دی چې له ځښتن تعالی هېرشویدی. » د نیورک ټایمز د څرګندونوله مخې نوموړي دا خبره هم کړې چې ما د افغانستان بېلا بېلې سیمې لیدلې دي ... !؟

هوتاسو دافغانستان بېلا بېلې سیمې ددې لپاره لیدلې،چې وګورئ، دتاسوخونړېږو ځواکونوڅومره بېوځله اوبېوسه افغان ماشومان،نرو ښځې،واړه اوزاړه په سرو وینو لمبولې دي ؟

تاسوپه خپلو سپکوسپوروخبرودخپلې ماتې پړه په بل چا مه اچوئ اوداهم مه هېروئ چې په ۵۲ ډوله الوتکو موافغانان وځپل ، خوموږدا هم نه هېروچې په ۲۰۰۲کال موپه ارزګان کې دواده په مراسمواو«ورا»خونړی برید وکړ،په سره سالوکې ناسته ناوې مو په سرو وینوولمبوله .

داسې په لسګونه بېلګې لروچې په ډېروداډول مراسموپه «وراوو»اوجنازومو په ډله ییزه توګه بریده کړې دي ،ولې بیا هم په دغه شل کلن اشغال مولکونو افغانانو ته مرګ ژوبله واړوله ،خو په تور مخ له شرمه ډکه ماته مووخوړه اوله افغانستانه مو پښې سپکې کړې .

هودافغانستان ولس بېوځله پاتې شواودخپلوقربانیېواواتلولېیوویاړونه یې ونه پالل شول ... په ټول عمرپه ځانګړې ډول دا څلور لسیزې چې دهېوادلپاره کومه قرباني ورکړه نه یوازې ددوئ داتلولېیوپخلی ونه شو،بلکې دپردېیو په غېږکې روزل شویو، نازولورهبرانولا وځپل اولا یې ددوئ په سر سیاسي سوداګرئ ته لاره اواره کړه .

جوی بایډن ته بایدوویل شي،که افغانان مو ووژل ،خو تاسو هم دسر نذراني واخستې اونه یوازې تاسو،بلکې هر ښکېلاک اوزبر ځواک،چې پخپلوبېباکواوناپاکوهیلوافغانستان ته په خیرنوسترګو کتلې دي ،خو دوئ هم رټل شوي اوجهنم ته غورزیدلې دي .

ولې له بده مرغه دافغانستان خلک دهېوادهرې تاریخي اوسیاسي غمیزې غمولې دي ،دخپلو سربښندنودب دبه ترې اخستل شوي اولوټل شوي ده،ددوئ په برخلیک سیاسي لوبوته لاره اواره شوې ده .

دتاریخ په رڼا کې افغانانودخپلواتلولېو په برکت درې واري (۱۸۳۹—۱۸۷۹ --- ۱۹۱۹ز) بریتانوي ښکېلاک اوزبېښاک په ګوندو کړ،خودهېواد له خپلواکۍ (۱۹۱۹ز) وروسته یوه نالوستې ،یوه غله اوخیرن انسان دپردېیوپه لمسه افغانستان توروتیاروته ټېل وهه .

افغان ولس دشوروی ښکېلا ک پر وړاندې پاڅون وکړ...په میلونوافغانانو ته مرګ ژوبله واووښته اوشوروي سرولښکروله شرمه ډکه ماته وخوړه ،ولې له بده مرغه د(کې جي بي) لا سپوڅود

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

(اي اس اي) له لاسپو څوسره يوځاي چي دپردېپو په لمنه کي لوي شوي وو... افغانستان په سرو وينوولمبوه او دتنظيمي مشرانوپه بېباکۍ په لسګونوزروافغانانو ته مرګ ژوبله واووښته ،افغانان دهمدوی‌له لاسه بي پته بي عزته شول ،دسرو مال درانه زيانونه وګالل .

امريکا اودناټوغړوهېوادونوهم لکه څرنګه چي دشلمي پېړۍ وحشي استعمارشوروي اتحادافغانستان ته يوه لويه غميزه په ميراث پرېښوده ، دارنګه د۲۱پېړۍ بېباکه ښکېلاک هم دافغانستان بېوسه اوبېکسه ولس ته دسر او مال درانه تلفات واړول .

داچي جوبايدن په خپلوسپکوسپورافغانانو ته « پېغور » ورکوي اوپه خپلولوټواسمان ولي او وايي چي چينتن تعالی افغانستان هېر کړی دی ، ولي حقيقت داسي نه دی !!

نه خداي پاک افغانان هېر کړي اونه هم افانانو خداي هېر کړی دی ... خودتاسوله پېغوره ډکي خبري دافغان ولس عظمت او تاريخي دب دبي ته زيان نشي اړول او تر ډېره بريده دا له شرمه ډک پېغور لومړی تاسو ته ډېرمتوجي دی چي په ډېر غرور افغانستان ته راغلی اوپه ډېري بېشرمۍ ووتي ...

دويم شرم هغه چاته دی،چي تاسود۵۲ الوتکوپه زورځواک واک ته ورسول او اوس دډالروبوجۍ پرشا دنړۍ بېلا بېلوهېوادونو کي له حقارته ډکي شپي ورځي تېروي ... دانسان شتمنۍ يوازي دانسان دعزت معيارنه دی ، بلکي دانسان جوهردانسان په شخصيت کي دی .

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ